
## د كتاب پېژندنه





كتاب::پښتو ګرامر
ليكوال:: وفي الله مياخيل
ناچاپ اثر
كمپوز/ډيزاين:: حنان حبيبزی


## د كتاب لړليک


- يادونه
- پښويه ( ګرامر )
- توري ( ابيځې )
- دتورو ډولونه
- ښځينه او نارينه
- مفرد او جمع نومونه
- ښځينه جمع
- د نوم حالتونه
- مصدر
- قيود
- ضمير


## يادونه

پښتو ګرامر

دا ګرامر چې اوس ستاسې په وړاندې پروت دی. په پېښور کې له نن څخه پنځلس كاله وړاندې زما يو استاد وفي الله مياخيل ليكلی وو. ما سره يې يوه كاپي وه. ځكه مې ټايپ او پر ليكه كړ چې يو خو به له وركېدو وژغورل شي او بل به د پښتو ژبې د زده كړې مينه وال د نړۍ په ګوټ ګوټ كې ترې ګټه واخلي.

زه چې هغه وخت دولس كلن ماشوم وم يانې له نن څخه پنځلس كاله وړاندې چې ما په پېښور كې له وفي الله استاد څخه د پښتو د ليک زده كړه پيل كړه دا ګرامر يې د نوټ په توګه راډالۍ كړی وو .

حنان حبيب زی

## پښويه ( ګرامر(

پيژند: د ويېونو ( الفاظو ) سمې كارونې ته ژب ښودنه وايي.

يا ژب ښودنه دهغو ارونو او بنستېونو رښتنې كړۍ ده چې زده كړه يې د ټولنې تر منځ د اندونو د ليږد راليږد لامل ګرځي ، كه څوک هڅه وكړي چې يوه ژبه په بشپړ ډول زده كړي ، ليكل پرې وكړي او څيړنې په كې وكړي نو د ژبښودنې د ارونو له زده كړې وروسته يې پلې كولو ته ارومرو بايد غاړه كيږدي.

## توري ( ابيځې(

له خولې چې غږونه اورو ، يو له بل څخه بېل بېل وي ، او د هر انسان غږ هم يو له بل څخه توپير لري ، دا غږونه د انسان له شونډو ، ژبې ، مرۍ او کومې څخه د راتيريدو پر وخت بدلون مومي ،چې دې خوزښت ( حرکت ) او له خولې راوتلو تورو د غږ بدلون او بېل والي ته هجا وايي ، د دوو يا زياتو تورو له يو ځای کيدو څخه يو ، ويې ( لفظ ) جوړيږي ، او د بېلا بېلو تورو له يو ځای کيدو څخه غونډله ( جمله ( رامنځته کيږي.

د بېلګې په توګه:

زه د بلخ د لرغوني ښار او سيدونکی يم .

ياده شوې غونډله د ويېونو ( الفاظو ) څو برخې لري ( زه ، د بلخ ، دلرغوني ښار ، اوسيدونکی ، يم ) چې هره برخه يې يو ه مانا ورکوي ، دپورتنۍ غونډلې هره برخه بېا بېل بېل اوازونه يا غږونه لري چې د پيژندنې لپاره يې نښې هم ټاکل شوي دي چې ډول ډول څيرې لري ، همدا توري ( ابيڅۍ ) ده ،د پښتو ټول يو څلويښت توري دي او په دې منځ کې يې ديرش هغه توري دي چې په دري او عربي ژبو کې دود ( مروج ) دي.

)ا ب ت ث ج ح خ د ذ ر ز س ش ص ض ع غ ف ق ک ل م ن و ه ء ي ئ . (

د پښتو تورو څلور هغه داسې دي چې په دري ژبه کې شته خو په عربي کې نشته ( پ چ ژ ګ (

او درې توري ( ټ ډ ړ ) يې بيا داسې دي چې نه په دري کې شته نه په عربي کې خو په هندي ، لرغونې ژبې سانسکريټ ، انګريزي ،او اردو ژبو کې شته دي ، دې دريواړو تورو پښتو ژبې ته دا ګټه رسولې ده چې ددې ټکو په کارونې سره طبي ، لاتيني او انګريزي ټکي چې پښتو او نورو سيمه ييزو ژبو کې کټ مټ کاريږي په هماغه اواز ادا کولی شي ، د بېلګې په توګه ، سوډيم ، ايرکنډيشن ، خو په نورو ژبو کې بيا دا ځانګړتيا نشته.

)ڼ ) نوڼ هم د پښتو ابيڅۍ يو بل توری دی خو ځنې يې بيا د دوو تورو مرکب ګڼي ځکه يې د مفردو تورو له ډلې څخه نه بولي . له يادو شو تورو پرته چې د پښتو په چم کې په دوديزو ژبو ( دري او نور و ) کې هم شته خو څلور نور توري ( ځ څ ږ ښ ) بيا د پښتو ابيڅۍ ځانګړي توري دي ،

دا توري د پښتو ژبې د بېلا بيلو لهجو تر منځ پوهاوي راپوهاوي ته لار اواروي ، دې تورو د پښتنو د بېلا بېلو ټبرونو ( قبيلو ) د تلفظ يا د ټکو د کارونې پر وخت د لهجې اختلاف راکم کړی دی ،

) -ځ ) د (ح ) له پاسه دري ټکي ورکول کيږي او ځنې خلک يې (چ ) او ځنې نور) ث ) تلفظ کوي ، لکه (څه ) چې ځنې ورته (چه ) او ځنې ورته (سه ) وايي.

)څادر ) چې ځنې يې (سادر ) بولي .

)څوک ) چې ځنې يې (چوک ) او ځنې نور يې (سوک ) تلفظ کوي

) �ځ ) د (ح ) د پاسه چې همزه (ء ) وليکل شي ( ځې ) ترې جوړيږي ، يو شمير خلک د(ج ) او ځنې نور بيا د (ز ) اواز ترې اخلي. د بېلګې په توګه )ځای ) (جای ) او ) زای (

) �ږ ) يو ټکی د (ر ) د پاسه او يو لاندې ورکول کيږي او (ګې ) په وزن د (ژ ) آواز هم ورکوي .

لکه

)ږمنځ ) (ګومنځ ) او (ژمنځ (

) �ښ ) يو ټکی د (س ) له پاسه او يو يې لاندې ورکولې کيږي او ځنې خلک ( د پښتونخوا اوسيدونکي يې ( په (ش ) او د (خ ) په غږونو وايي.

)ښکلی ) ( شکلی ) (خکلی (

)څښل ) (چشل ) ( څخل (

څښل : د دې ټکي تلفظ ځنې خلک(سکل ) او ځنې خلک(سخل ) (څخل ) (چشل ) (چکل(تلفظ کوي، خو دا چې د کندهار او نورو څيرمه ولايتونو اوسيدونکي يې په (ش ) او د پښتونخوا او ختيځو ولايتونو ځنې اوسيدونکي يې په (خ ) تلفظ کوي په ليکلو کې يې بدلون نه راځي ، که تاسو وليکئ چې ( ما اوبه وچشلې ) يا ( ما اوبه وڅخلې ) دلته ) چشلې ) او ( څخلې ) ناسم دی ، که ( پښتو ) په ( پشتو ) وليکل شي دا هم سم نه دی ، د ورته لهجو ليکنه په هماغه لهجو له کره(سوچه ) پښتو ليکدود سره ټکر لري ، د بېلګې په توګه د پښتو د کره ليکدود له مخې د ( وچشلې ) او ( وڅخلې ) پر ځای ( وڅښلې ) کاريږي ، که ليکوال يې د کندهار وي يا له پښتونخوا وي.

## د تورو ډولونه

دوه ډلو یې ویشو
-نارینه او ښځینه
-د لیک له پلوه
لومړی به نارینه او ښځینه توري وڅیړو.
الف: نارینه توري
)اج ح ځ د ډ س ش ښ ص ض ع غ ق ک ګ ل م ن (
ب: ښځینه توري
)ب ت ث چ څ خ ر ړ ز ژ ږ ط ظ ف ه ي ې ی ئ(

-د لیک له پلوه هم په دوه ډوله دي
الف: یو ځای کیدونکي توري
-هغه توري دي چې له ځانه وروستني توري سره یو ځای تړلي کیږي
)ب پ ټ ث ج ح چ ځ خ ث س ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن ه ي ئ (
ج:نه یو ځای کیدونکي توري
-هغو تورو ته وایي چې وروستني توري ( راتلونکي هغه ) سره ونه تړل شي
)د ډ ذ ژ ز و.(
یادونه: په عربي ژبه کې همزه(ء) د خوزنده الف کار ورکوي لکه جرائت، هیئت.
-عربي توري په پښتو کې:
دا توري په ځانګړو عربي ویېونو کې د کارونې ورږوي د کره پښتو په ویېونو ( الفا ظو ) کې دا توري نه کارول کیږي
)ث ص ض ط ظ ع ف ق(
-دري توري په پښتو کې:

د دري ژبې ځانګړي توري یوازې د دغې ژبې د ټکو یا کلیمو د کارونې پر وخت کاریږي.
)پ چ ژ ګ (
-د پښتو ځانګړي توري چې په دري او عربي کې نه راځي
)ټ ډ ړ ږ ڼ ښ څ ځ (

-غږیز یا کمکي توري :لکه(ا ، و ، ه ، ي. (
او نور ټول توري غلي ( چوپ ) توري بلل کیږي.
۱ -کومکي غږونه :
کومکي غږونه په پښتو کښبي په دوه ډوله دي یو ډول خوځندي(حرکتوالا ( او بل ډول یې توري دي .
-خوځندي(حرکتونه(
أ-زور لکه: ور، غر ، غږ
ب -زورکې لکه: شل ، وچ، مچ ،
ت- زیر لکه: عالم ، کامل ، ساحل.
ث- پیش لکه :تکامل ، تجاهل .

۲ -په پښتو کښبي کله کله په یو نیم حرکت باندې د اواز زیات فشار او زور راځي چه (غچ) ورته وایو د غچ له لارې د ټکي مانا بدلیږي لکه (غوټه) که د اواز زور په (غ) راشي نو د (ګرې) مانا ورکوي او که په (ټ) راشي نو د پکتیا او خوست ولایتونو د لهجې په بنسټ د (لوې ،سترې ) مانا ورکوي
.
۳ -غږوندی(سکون : (

-لاندې ارونه ( اصول ) لري.
الف: پر ساکن توري يې پيل روا دي او دنيم حرکت په ډول ويل کيږي لکه سپوږمۍ ، لمر ، پسه.
ب: په پښتو کې تر درې ساکنو پورې هم يو ځای راتلی شي خو پدې شرط چې لومړی ساکن يې کومکي توری وي لکه مياشت ، څلويښت ، پنځوس
.

کومکي توري: په پښتو کې کومکي توري څلور دي خو هغه وخت کومکي توري ګڼل کيږي چې ساکن وي او مخکې ترې کومکي توري نه وي.
١� ا (الف) د ټکي ( کليمې ( تر منځ او پای کې راځي کښې داځي لکه: اکا ، انا ، مانا او نور .
٢� و(واو ) په څلور ډوله دي:
-aنرم (واو ): چې پوست او نرم ويل کيږي او مخکې توری يې زور ولري لکه : لو ، پلو ، چلو.
-bڅرګند و (واو ): مخکې توری يې څرګنده او دروند پيښ ولري لکه :چاکو ، الو ، تالو..
-cاوږد (واو ) : چې اوږد او نرم ويل کيږي او مخکې توری يې اوږد پيښ ولري لکه : کور ، مور ، خور...
-dکوچني(واو ): چې مخکې توری يې سپک او لنډ پيښ ولري لکه : تاسو ، لومړی.

٣� ي(يا ): په پښتو کښې) ياګانې ) پنځه ډوله ده:
-aنرمه (ی): دا ډول ( يا ) هيڅ ټکي نه لري. پسته ويل کيږي او دمخې توری يې (زور ) ولري لکه: منی ،ژمی ،کړی ، او نور........
-bڅرګنده(ي): دا ډول ( يا ) لاندې دوه ټکي لري.چې د مخې توری يې دروند او څرګند(زير (ولري لکه: ښکلي ، ښادي ، سپين.......................
-cښځينه (ۍ): زورکي والا) يا ) هم ورته ويلی شو او لکۍ والا ( يا ) يې هم بللی شو يانې د مخې توری يې زورکی لري او يواځې د کليمې په پای کې راځي لکه: هګۍ ، خولۍ..............................
-dد جمعې يا د فعل (ئ ) د پاسه همزه (ئ) خوري په نوم يا صفت کې د (ۍ) په ځير لوستل کيږي.
-eاوږده(ې) اوزده ويل کيږي او د مخې توری يې اوږد زير لکه: شيدې ، مستې ، ...........
۴) -هه) په پښتو کې په دوه ډوله ده:
- aڅرګنده او لويه (هه) چه د مخې توری يې زور لري لکه: پياله ، وزه، جامه.....
� bپټه او کوچنۍ (هه) د مخې توری يې زورکی لري لکه: پسه ، نيکه.....

تاسو پوهيږئ' چه هر مانا لرونکي ټکي ته کليمه وايي او د يوې موخې ) هدف ) د څرګندو لو لپاره اړ يو چې څو کليمې سره يو ځاي کړو. ددغو ټکو ( کليمو ) له يو ځای کېدو څخه غونډله يا جمله جوړيږي.
په پښتو کې نوم د کليمې له ډولونو يا د کلام له توکو سره يو ډول دي.
لکه لمر ، زوی ، ورور ، چرګ ، ميوند.
د مانا له مخې د نوم ډولونه:
نوم د مانا له مخې په پنځه ډوله دی :
١� ځانګړی نوم:
چې خاص سړی يا يو ځانګړی شی راپيژني ( معرفي کوي ) لکه: احمد شاه بابا ، رحمن بابا ، کابل، حمزه بابا...
٢� عام نوم :
هغه دی چې يو خاص شی ترې نه مراديږي بلکې پر خپلو ډولونو يوشان دلالت کوي لکه : لرګی ، پاڼه...........................

٣� د جنس نوم:
هغه دی چې پر لږ او ډيرو باندې يو ډول دلالت وکړي لکه:اوبه ، غوړي ، غنم ، تيل.

۴� ډله ييز نوم :
هغه دی چې په لفظ کې مفرد وي او په مانا کې د يوې ډلې لکه: لښکر ، جرګه ، رمه ، ټولی ، ولس او داسې نور و لپاره ورکارول شي.
دا نوم د ډيرو ډلو په شتون يا يې يادونه جمعه کيږي لکه: جرګې ، رمې ، ډلې او نور.
۵� مجرد نوم:
هغه دی چې هغه څيز په سترګو نه ليدل کيږي لکه: عقل، پوهه،ويره او داسې نور.

نوم د جوړښت له پلوه په دوه ډوله دی:
� مرکب نوم: چې له دوو یا زیاتو کلیمو څخه جوړ شوي وي.
لکه: شیرپور، کندهار ، شیرشاه مینه ، بریکوټ او نور مرکب نومونه کله کله په مخفف ډول هم راځی لکه: ترله (دتره لور.(
۲ � بسیط نوم: دا داسې نوم دی چې له یوې مفردې کلیمې څخه جوړ یږي او نور توکي نه لري
لکه: کټ ، لاس ، سر ، زړه ، خوله او داسې نور.... ...........

## ښځینه او نارینه

په پښتو کې ټول نومونه د کیفیت او جنسیت له مخې پر دوه ډوله دي او پر ښځینه او نارینه نومونو ویشل کیږي د غه دوه ډوله ځنې نښې هم لري چې په لاندي ډول ښودل کیږي:
-دنارینه نوم نښې :

هغه نومونه او صفتونه چې په پای کې یې لاندینی نښې او توري راشي نارینه ګڼل کیږي:
۱ � نرمه(ی ) لکه: لرګی، منګی ، سړی ، نوی ، وړی ، تړی......
۲ � ځرګند واو لکه: تالو ، بانو ، چالو.
۳ � نرم واو لکه: پلو ، چلو ، کنډو.
۴ - کوچنی(هه) لکه: تره ، وراره ، زړه ، نیکه.
۵ � هغه ټول نومونه چې په پای کې یې اصلي توري راغلي وي نارینه ګڼل کیږي
لکه: میز ، لاس ، غل ، مل.
-دښځینه نوم نښې:
هغه نوم یا صفت چې په پای کې یې د غه وروسته نښې راغلې وي مونث (ښځینه ) نوم ګڼل کیږي
۱ � ځرګنده(هـ (لکه: اسپه ،لښته ، پنبه ، پوښتنه ، توره ، سپینه ، .
۲ � ښځینه یا زور کی ولا) ی ) لکه: خولی ، ډوډی ، څپلی ، ځوکی ، .
۳ � الف: ژړا ، خندا ، نڅا ، ملا ، شا ، ښوروا ، .
مګر الف د بې سا نومونو په پای کې ښځینه نښه ګڼل کیږي.
۴ � اوږد(واو ) لکه:ښارو ،ځانګو ، لامبو .
۵ � ځرګنده (ي) لکه: بیاتي ( قیچي ) دوستي ، ښادي ، وروري ، خوري ، خپلوي.
مګر په نسبتي صفتونو کې ځرګنده (ي) د نارینه لپاره راځي لکه: دوبي ، موچي، ډولچي ، ربابي.
۶ - اوږده (ې) لکه: ادې ، ناوې ، ملګرې ، ترې.

## مفرد او جمع نومونه

نوم د شمیر او کمیت له مخې په دوه ډوله دي مفرد او جمع.
مفرد: هغه دی چې پر یو شي یا یو کس باندي دلالت کوي لکه: هلک ، ونه ، لرګی.
جمع: هغه دی چې له یوه نه پرزیاتو شیانو او کسانو دلالت کوي لکه: هلکان ، ونې ، لرګي.
په پښتو کې ټول جمع نومونه له مفرد و هغو څخه د ځینو نښو په راوړلو جوړیږي:
د نارینه جمعي نښې دا دي: ي ، ګان ، یان ، ان ، ونه
د ښځینه جمعو نښې دا دي: ې ، ی ، ګانې ، وې.

د نارینه جمعو د جوړولو ارونه ( اصول. (
١� هر مفرد نوم او صفت چې په پای کې یې نرمه (ی ) راغلي وي په جمع کښې د غه (ی ) په څرګنده (ي ) بدلیږي لکه :
مفرد: ستوری-لوښی-پرونی. مفرد: پلی-تلی-لرګی.
جمع : ستوري-لوښي-پروني. جمع: پلي-تلي-لرګي.

په دې ډول نومونو کې ساکن نومونه یا صفتونه د مفرد په پای کې د (ان) په راوړلو سره هم جمع کیږي لکه:
جمع : مېږي ، کابلی .
مفرد: میږیان ، کابلیان،
٢� هر نوم او صفت چې په پای کې یې څرګند اصلی (واو ) یا (الف ) یا څرګنده اصلي (هه) راغلي وي د (ګان(په کارولو سره جمعه کیږي:
لکه: تالو-تالوګان
چاکو-چاکوګان
باړخو-باړخوګان
ماما-ماماګان
بوډا-بوډاګان
ساده-ساده ګان

یادونه: د واو په نومونو کې په (ان) او د الف په نومونو کې ځنې وخت په) یان) هم جمع کیږي لکه:
مېرزایان،آشنایان،ملایان،کچالان،کدوان،پېتوان.
-ساکښ صفات چې په پای کې یې څرګنده (ي) یا څرګند(واو ) راغلی وي د(ان )په کارولو سره جمعه کیږي.
لکه: مفرد : موچي-دوبي-لاپو-خېټو.
جمع: موچییان-دوبیان-لاپوان-خېټوان.
۴� هر صفت چې په منځ کې یې ( واو ) یا ( یا ) راغلي وي په ښځینه کې دا ( واو ) او ( یا ) غورځیدلي وي ، نو په جمعه کې په الف بدلیږي او په پای کې یې کوچنۍ ( هه ) زیاتیږي.
لکه : جمع: پښتون-ړوند-تریخ-تریو-روڼ.
مفرد : پښتانه-ړانده-ترخه-تروه-راڼه.

۵� ځنې دوه توریز او درې توریز صفات د کوچنۍ (هه ) په زیاتولو سره جمعه کیږي.
لکه: جمع: غل-مل-مړ-سور-شین-اوم-اوږد.
مفرد : غله-مله-مړه-سره-شنه-اومه-اوږده.
٦ - هغه نومونه او صفتونه چه په پای کې یې اصلي حرف راغلی وي که ساکښ وي په ټولیز ډول د (ان) په زیاتولو او که بې ساوي (ونه) په زیاتولو سره جمع کیږي.

لکه: مفرد: چرګ ـ ا وښ ـ څوان ـ مين.
جمع: چرګان ـ اوښان ـ ځوانان ـ مينان .

مفرد: کور ـ کال ـ پور ، راز .
جمع: کورونه ـ کلونه ـ پورونه ، رازونه.

## ښځينه جمعي

د ښځينه جمعو د جوړولو لارې چارې او نښې نښانې.
�۱ هر مفرد ښځينه نوم چې په پای کې يې (واو ) او (الف ) وي د ( ګانې ) په زياتولو سره جمع کيږيږي. لکه:
مفرد: زانګو ـ پيشو ـ ورشو ـ ژړا ـ غوا ـ رڼا .
جمع: زانګو ګانې ـ پيشو ګانې ـ ورشو ګانې ـ ژړاګانې ـ غواګانې ـ رڼاګانې.
ځنې پښتانه د (الف ) نومونه د (وې ) په راوړلو جمع کوي لکه:
ژړاوې ـ رڼاوې ـ غواوې....

�۲ هر مفرد ښځينه نوم چې په پای کې يې څرګنده (ي ) يا زورکي واله(ۍ ) راغلې وي که سا کښ وي په) ګانې ) جمع کيږي او که بې ساوي نو جمع يې په زورکي واله (ۍ ) راځي لکه:
مفرد :مامي ـ انۍ ـ بوډۍ.
جمع: مامي ګانې ـ انې ګانې ـ بوډۍ ګانې .

مفرد :دوستي ـ وداني ـ ښادي.
جمع: دوستۍ ـ ودانۍ ـ ښادۍ.
�۳ کوم نومونه چې پاې کې يې اوږده (ې ) راغلې وي په ټوليزو ( عمومي ) صفتوکې جمعه نه لري بلکې د مفرد او جمع لپاره يو شان کاريږي لکه :
مفرد:ورغومي ، ناوې.
جمع : ورغومي ـ ناوې.

�۴ هغه مفرد ښځينه نومونه چې په پای کې يې (هه ) وي په جمع کې (هه ) په (ې (بدليږي لکه : مفرد : ګټه ـ پاڼه ـ مالګه ـ چرګه ـ پخه.
جمع : ګټې ـ پاڼې ـ مالګې ـ چرګې ـ پخې.
يادونه:
ټول سماعي موٴنثات په اصل کې (هه ) لري نو ځکه يې جمع په آخرکې د (ې ) په راوړلو سره راځي لکه : مفرد: غيږ ـ لار ـ لمن ـ څنګل.
جمع: غيږې ـ لارې ـ لمنې ـ څنګلې.
�۵ د نسبتي صفاتو او شريکو صفاتو ښځينه جمعي له نارينه جمعو څخه د (ې ) په زياتولو جوړيږي لکه :
مذکر جمع: دوبيان ـ ساده ګان ـ آشنايان ـ خواران ـ کابليان.
مونث جمع : دوبيان ـ ساده ګان ـ آشنايانې ـ خوادانې ـ کابليانې.
�۲ د معنوي مونثاتو جمعې د يوې قاعدې لاندې نه راځي لکه
مفرد: مور ـ خور ـ لور ـ نجلۍ ـ ترور.
جمع: ميندې ـ خويندې ـ لوڼې ـ نجونې ـ ترورياني.

## د نوم حالتونه

په عمومي ډول دوه حالتونه لري: معنوي او لفظي.
اول: معنوي حالت: د نوم مشهور حالتونه څلور دي.
١� فاعلي حالت: کوم نوم چې په جمله کې فاعل وي يانې له هغه څخه يو کار صادرشي يا ورپوري تړلي وي هغه حالت ته فاعلي حالت وايې لکه: ځلمی خط ليکي تورپيکی کورته ځي چې په دې جملو کې زلمي او تورپيکی دواړه فاعلي حالت لري.
٢� مفعولي حالت: بريالی ډوډی خوري ملالی سبق وايي. په دې جمله کې ډوډی او سبق په مفعولي حالت کې دي.
٣� ندايي حالت: که چيرې يو نوم ته غږ او ندا ورکړی شي نو هغه نوم په ندای حالت کې دي لکه: اې وروره ا هلکه ا خورکی ا تاته وايم.
په دې جملو کښې ورور۔هلک او خورکی ندای حالت لري.
۴� ارتباطي حالت: که چيرې يو نوم د ارتباط له حروف سره وکاريږي او د ارتباط توري ور څخه د مخه او وروسته راشي نو هغه نوم ارتباطي حالت لري لکه: له کوره راغلم.
بازارته ځم ملالی ته قلم ورکړه. په دې بيلګو کې کور۔بازار او ملالی ارتباطي حالت لري او د ارتباطي توري په کې.
په پښتو کې د اړيکي ( ارتباط ) توري دي بې۔په۔پر۔د ۔تر۔له۔ته۔لره۔څخه۔څنې۔سره.
که چيرې دوه نومونه د (د (په واسطه له يو بل سره ارتباط پيدا کړي نو هغه وخت ورته اضافي ارتباط وايي. په اضافي ارتباط کې لومړی مضاف اليه او وروسته مضاف راځي لکه: د اختر ورځ۔د زړو ګوته۔او که مضاف اليه د ( مې۔دې۔يې ) ضميرونه وي نو بيا مضاف د مخه راځي لکه: قلم مې راکه کتاب دې څه شو . زړه پريشان دی.
دوم: د نوم لفظي حا لتونه :
په پښتو کې نومونه د پای د بدلون له پلوه.
١� هغه نوم چې په نرمه (ی) ختم شوي وي په ندايي حالت کښې مفتوح راځي او فتحه (زور) په (ه ) ليکل کيږي په فاعلي او ارتباط حالت کې د جمعي په شکل اوړي يعني نرمه ( ی ) په څرګنده (ي) بدليږي او په نورو حالاتو کې په اصلي شکل راځي لکه:
ندايي حالت: اې زلميه ! ، اې سړيه. !
فاعلي حالت: زلمي خط وليکه ، توريالي سبق ووايه .
ارتباطي حالت: په منګي کې اوبه نشته ، ته څه وايې ، توريالی يې بوته
٢� کوم نومونه چې په صحيح حرف پای ته ورسيږي او جمع يې په (ان۔ونه) راځي په ندايي حالت کې مفتوح او په نورو حالاتو کې په اريز (اصل ) ډول راځي لکه : اې ځوانه ! ، اې هلکه.!
اې باده ! ، اې کوره . !
٣� هغه صفت چې په منځ کې يې (واو ) وي په ندايي حالت کې يې مفتوح او په فاعلي او ارتباطي حالت کې د جمعې په صورت کې راځي لکه: اې پښتونه ، کوچني هلک وخندل.
بې ننګي د پښتنانه مرګ دی. يادونه: دغه راز د (له۔تر۔بې۔نا ) له حروف سره هم مفتوح راځي لکه: بې فکره سړی دی ، ناشکره دی ، ترکوره پورې ځم ، له کوره راغلم.۴� سماعي مونث او په (هه) او څرګند (ي) مختوم مونث په ندايي۔فاعلي۔ارتباطي درې واړو حالتونو کې په جمعه بدليږي لکه:
اې ميرمنې ! دښمنی ډير کورونه وران کړل ، نن د ښادې ورځ ده. ، اې ملګريه ! هغوی لاړل يا نن د مياشتې شلم دی.
۵� هغه معنوي مونث چې په صحيح حرف ختم وي په ندايي حالت کې يې پای پر اوږدې (ې ) زياتيږي د (له ، بې، تر ) سره مفتوح او په نورو حالتو کې په خپل شکل راځي لکه: اې مورې ! اې خورې ! له موره بل څوک خوږ نشته.
دا هلک بې موره دی.، داډالی ) تحفه ) ترموره ورسوه.
٦� اسم جنس او جمع نومونه چې په څرګنده (ي) يا (ه (مختوم وي ندايي ، فاعلي او ارتباطي حالاتو کې د پای (ي) او (هه) په اوږده (واو (بدليږي لکه: اې سړو ! ميلمنو ډوډي وخوره.
دغورو بيه زياته شوې ده. زما خويندو ميندو ! اې ښځو ! خپل حقونه وغواړئ .
اې ملګريه !دميلمنو کوټه چيرې ده.
٧� جمع مذکر او اسم جنس چه په صحيح حرف ختم وي په ندايي ، فاعلي او ارتباطي حالاتو کې يې پای ته کوچنی (واو ) زياتيږي لکه: اې هلکا نو !نورو هلکانو سبق ووايه ، اې ځوانانو !دغو ځوانانو ډير کار وکړ.

مصدر په لغت کې سرچپه منبع ته وايي او په ژب ښوونه کې هغه کليمه ده چې د کار کېدلو يا نه کېد لو ا ظهار ترې کيږي او د زماني تعلق ورسره نه وي.
لکه: تلل، کتل ، نيول ، او داسې نور: په پښتو کې د مصدر نښه (ل) دی چې دکليمه په پای کې راځي .
د مصدر درې ډولونه لري.
۱� وضعي مصدر يا اصلي مصدر.
۲� ترکيبي مصدر.
۳� جعلي مصدر.
لومړی(وضعي يا اصلي مصدر(
هغه مصدر ته وايي چې د يوې ځانګړي مانا لپاره وضع شوی وي لکه تلل، وهل ، وژل ، ليدل ، څښل، غوښتل ، رېبل ، خوړل ، او داسې نور.
دوهم (ترکيبي مصدر (
ترکيبي مصدر يا غير وضعي مصدرونه هغه مصدرونه دي چې د يو اسم په پای کې د کول يا کيدل په زياتولو سره جوړيږي لکه : کار کول ،ډاډه کېدل، کله کله يواځې د (ول) يا (يد ل) په زياتولو سره جوړيږي لکه :خندول ، جوړيدل.
ترکيبي مصدرونو جوړول لپاره کومه ټوليزه (عمومي) لار ( قاعده ( نشته په دوديز ډول ( عموما ) په ځنې اسمونوکې لږ شان بدلون راځي خو دلازمي فعل لپاره (ول) او (يدل) اضافه کيږي.
د اسم بدلول په مصدر باندي په لاندې ډول دي.
۱� د اصلي مطلق صفت د پای په توري زور کيږي بيا (ول) ورسره اضافه کيږي اولازمي افعال په لاس راځي لکه:
تلل-تللي دي-تللي به وي-تللي وو-ځم به ، ليکونه وليکه-ته به ليک وليکې.

ايسار = ايسارول خلاص = خلاصول لږ = لږول
پاک = پاکول خوشحال = خوشحالول لوړ = لوړول
پټ = پټول ډک = ډ کول مات = ماتول
يخ = يخول نرم = نرمول
تش = تشول ډنګ = ډنګول ياد = يادول
تور = تورول زيات = زياتول
ټول = ټولول ژوبل = ژوبلول
جوړ = جوړول سپين = سپينول
خړ = خړول غوړ = غوړول

او که چيرې وغواړو متعدي فعلونه لاس ته راوړو د مطلق صفت په آخر کې ( يدل ) ورسره اضافه کيږي لکه:خنديدل، وليدل، لږ زيدل.
يادونه: څو محدود متلق صفتونه شته چه ځنېيوا ځې لازمي فعل او له ځنو تورو يې يواځې متعدي فعلونه لاسته راځي. لکه: راشه درشه ، راشه درشه کول.
۲� د صفت هغه اسمونه چې درې يا څلور توري لري او يو توری (و ) يا(ي) وي د جمعې د جوړولو لپاره دا) و ) يا (ي) په الف بدليږي.
د مصدر دجوړولو لپاره پورتنی (واو ) او (ي) له منځه ځي يا حذف کيږي او د پورتنی قاعدې لاندې راځي.لکه:
موړ = ماړه = موړول = مړيدل
دروند = درنول = دريندل
کوږ = کاږه = کوږول = کوږيدل
تريخ = ترخه = تريخول = تريخيدل
۳� دجمعې اسمونه په پای کې (کول) او (کېدل) اضافه کيږي لکه:
اوبه = اوبه کول = اوبه کېدل.

اوړه = اوړه کول = اوړه کېدل.
بوره = بوره کول = بوره کېدل.
چاپ = چاپول = چاپ کېدل.

دريم (جعلي مصد ر(
هغه کليمې ته وايي چې د مصدر مانا ورکوي خو نور فعلونه ترې انشقاقيږي او هم يې په پای کې د مصدر نښه يانې (ل) نه راځي.
دا مصدرونه د اسم يا صفت د اضافه کولو سره مينځ ته راځي او نښې يې دا دي (يا ، زړه، نا زړه، وړتيا ، کمزورتيا.
ميئن ، مينتوب
والي ، پلن ، پلنوالی ، سپک ، .
ولې ، تربوره ، تربور ولي ،توکم ، توکم پالنه ، ميلمه ، ميلمستيا ،....
پيژند ( تعريف ) ، پيژند گلوي ، ورور ، وررورگلوي.....
يادونه: کله کله د پارسي له صفتي اسمونو څخه ورسته (ي ) ورکول کيږي ، نرم ، سخت ، سختي ، څرخ ، نه څرخي.
د مصدر ډولونه د جوړښت له پلوه په دوه دی:
) -تام او ناقص ، يدل مصدرونه. (
١ � تام مصدر �هغه مصدرته وايي چې د فعلونوټولې له صيغې څخه جوړيږي لکه: رايه ، تا رايه ورکړه ، ته به رايه ورکړې ، ته رايه ورکوې ، تاووژل ، ته به ووژني.
٢ � ناقص مصدر �هغه مصدر ته وايي چې دفعلونو ټولې صيغې ترې جوړيږي او د ځينو صيغو لپاره له بل مصدر څخه کار اخيستل کيږي. لکه : تلل،تللي دي ، تللي به وي ، تللي وو ، ځم به ، نه به ځم

مصد ر د مانا په لحاظ په دوه ډوله دی: ( لازمي ، متعدي(
اول �لازمي او متعدي.
١ : لازمي - لکه: راغلل ، هغه راغی ، خندل ، ته به خاندې
٢ : متعدي �هغه مصدرونه ته وايي چې له فاعل سر بيره ( علاوه )مفعول ته هم اړه لري
مفعول: لکه �ليکل ، هغه وليکل .
-خوړل ، هغه ډوډي خوري .
دوم �هغه ترکيبي مصدرونه چې په پای کې (يدل)وي که چيري د صفت يا له اصلي کامې څخه وروسته اضافه شي مضارع لاس ته راځي (بېلېدل (
.
غايب �واحد �هغه بېل شي.
جمع �هغوی بېل شي.
حاضر �غورځنگ دې بيل شي �رڼا او ملگرې يې بېل شي.
جمع : دوي بېل شي �هغوی بېل شي.
مخاطب �واحد �ته بېل شې �دا بيله شي .
جمع : تا سو بېل شئ �دوي بېل شي.
متکلم �زړگيه !زه بيل شم �ته بېله شه.
جمع: مونږ بېل شو �مونږ بېلې شو.

## قیود

دا هغه کلیمه ده چې فعل یا صفت یا بل قید په مکان ، زمان ، حالت ، او یا اندازه قیدوي او له فعل سره یو ځای کیږي ، په یوه حالت یې اړ باسي د بیلګې په توګه په دې جمله کې (زلمی راغی ) هیڅ قید نشته او که وو ایو چې ( زلمي ته خندا راغله ( نو دلته یو بل شی هم پیدا شول چې د راتلو فعل یې پورې وتاړه ( مقید کړ ) او هغه د خندا حالت دي.

قیود په پښتو کې ډیر ډولو نه لري او د بېلا بیلو مصدرونو لپا ره راځي مشهور ډولونه یې دا دي:

۱� زمان قیود : چې یو فعل ته د زماني او وخت قید ورکوي لکه :

پرون ولاړم او س راغلم، هر کله راشې، نېکمرغه او سې، زه تل کار ته له وخت سره سم ځم.

۲� د ځای او مکان قیود : لکه دلته کېنه ، پاس وخیژئ، ښکته راشه، نژدې راشه.

۳� د شک قیود : لکه ګوندې ( ښایي ، کېدای شي ) راشی ، ښایي سبا ته ولاړ شم.

۴� د علت قیود : لکه: څه له ځې ؟ ولې نه کېنې؟

۵� د وضعیت او حالت قیود: لکه: ژر ژر راځه ، په منډه منډه( چټک ) ځه، ولې ورو ورو ځې ؟

ځنې نور قیود هم شته چې د بیلا بیلو مصدرونو لپا ره کار یږي او د فعل مانا ته یو مانیز ) معنوي ) قید ورکوي لکه: نا څا په ولاړ ، سبا ار ومرو راشه ، دا مضمون په پرله پسې توګه خپرېږي ، افغانان ډیر زړور دي او د ټاټوبي ساتنه یې په تش لاس کوي.

یاد ونه: په پښتو کې صفات هم د قید په ډول کاریږي لکه: یو اځې مه ځه له عمران سره ملګری ولاړ شه ، پرون له ما پټ ولاړې، زلمی هلته غلی ناست دی ، لکه یو صفت هم د بل صفت لپاره د قید دنده تر سره کوي لکه: زلمی ډیر تږی دی.

جانان لږ ناروغ دی ، میرویس ښې خوږې خبرې کوي.

## ضمیر

ضمیر هغه کلیمه ده چې د تکرار د مخنیوی او د غونډلې د لنډولو لپاره د نوم پر ځای کاریږي ، لکه:

محمد جان زمونږ هټۍ ( دوکان ) ته راغی ،هغه زما تر څنګ کېناست ، د چای له څښلو څخه یې وروسته د خپل سفر کیسه وکړه.

په پورتني مطلب کې د (محمد جان ) نوم درې ځله راغی ، چې د تکرار د مخنیوي لپاره یې یو ځای ( هغه ( او بل ځای ( یې ) غایب ضمیر وکارول شو . که ضمیر کارول شوی نه وای نو غونډله ډیره بد رنګه ښکاریده ،لکه: محمد جان زمونږ هټۍ ته راغی ، محمد جان زما تر څنګ کېناست ، د چای له څښلو څخه وروسته محمد جان د خپل سفر کیسه وکړه.

د یادونې وړ: هغه ضمیر چې د نوم لپاره کاریږي نوموړی نوم د هغه ضمیر ( سر چینه ) یا مرجع بلل کیږي ضمیرونه د مرجع له پلوه په څلور ډوله دي .

لومړی: هغه ضمیرونه چې د هغو کسانو یا نومونو لپاره وکاریږي چې د خبر و پر وخت شتون ونه لري ( موجود نه وي ) غایب ضمیر بلل کیږي چې په دوه ډوله دي.

-مفرد لکه هغه.

-جمع : هغوي.

دوهم: هغه ضمیرونه چې د هغو کسانو یا نومونو لپاره استعمال شي چې د خبرو پر وخت شتون ولري خو ویونکي یې خبرې له بل چا سره کوي یا نې دوي مخاطب نه وي د غایب (قریب ) ضمیر بلل کیږي لکه دوي ، دا ، دی.

دریم: هغه ضمیرونه چې یو خبرې کوونکي یې د خپل نوم پر ځایو کاروي ،د (متکلیم ضمیر ) په نامه یادیږي لکه: زه ، مونږ.

څلورم :هغه ضمیرونه چې د اوریدنکي د نامه پر ځای استعمالیږي د مخاطب ضمیر ونه بلل کیږي لکه: مفرد: ته .

جمع : تاسو .